# لیرد: د ښوونځي لپاره یو مثبت پیل

## لاړښووني چې له کورنیو سره د لیرد د زده کړې او د پرمختګ د بیانیې په ښپړولو کې مرسته وکړي

### ولې د ښوونځي یو مثبت پیل اړین دی؟

د ښوونځي یو مثبت پیل، کولی شي ستاسو ماشوم سره په ښه زده کړه او د خوښۍ په احساس کولو کې مرسته وکړي، کله چې ورکتون څخه ښوونځۍ ته او راتلونکي زده کړو ته ځي. یوه مثبته لیږدونه ستاسو د ماشوم د مخکینیو او اوسنیو تجربو په رامنځته کولو سره ستاسو د ماشوم زده کړې او پرمختګ په دوام کې هم مرسته کوي، تر څو دوی سره د خوندي، ډاډمن او د ارتباطاتو د نیولو په احساس کولو کې مرسته وکړي. د ښوونځي یو مثبت پیل کولی شي د دوی سره په غښتلیتوب کې مرسته وکړي.

### د لیږدوني زده کړې او د پراختیا بیان څه شی دي؟

د ماشومتوب لومړني خدمتونه، ښوونځي، د ښوونځي ساعتونو څخه بهر د پاملرني (Outside School Hours Care (OSHC) خدمتونه او کورنۍ، د ماشومانو د زده کړې او هوسایني د ملاتړ لپاره په ګډه کار کوي. دوی د لیږدوني زده کړو او د پرمختګ بیانیې (Transition Learning and Development Statement (TLDS) په کارولو سره مالومات شریکوي. دا د ماشومتوب دوري د خدمت لخوا د هر هغه ماشوم لپاره لیکل شوی دی چې ښوونځي ته ځي.

TLDS ستاسو د ماشوم د زده کړې، پرمختګ او هوسایني په اړه مالومات د ماشومتوب د لومړنیو خدمتونو او ښوونځیو تر منځ شریکوي. TLDS ستاسو د ماشوم د ګټو، مهارتونو او وړتیاوو ګړندي لید وړاندې کوي او ستاسو د ماشوم ملاتړ لپاره انفرادي طریقې او د تدریس ستراتژۍ په ګوته کوي.

TLDS کولی شي تاسو سره مرسته وکړي تر څو ستاسو د ماشوم زده کړې په پوهیدو او ملاتړ کې مرسته وکړي، کله چې دوی ښوونځي پیل کوي. په TLDS کې مالومات د بنسټ له ښوونکو سره مرسته کوي چې ستاسو ماشوم وپیژني او مناسب تدریسي پروګرامونه ورته پلان کړي. که ستاسو ماشوم په OSHC کې وي، TLDS د دوي د وخت لپاره پلان کولو کې مرسته کوي.

TLDS ځیني شخصي مشخصات لکه ستاسو د ماشوم نوم، د زیږیدو نیټه او انځور، او همدارنګه ستاسو نوم او د اړیکو مالومات لري. کیدای شي دا د ماشومتوب د نورو مسلکي متخصصینو نوم او د اړیکو توضیحات هم ولري چې ستاسو د ماشوم ملاتړ ترسره کوي.

ستاسو د ماشوم په TLDS کې مرسته کول د ښوونځي فعالیتونو ته یو له لیرد څخه دی چې تاسو او ستاسو ماشوم کولی شئ د ښوونځي له پیل د مخه په ګډه سره پکې برخه واخلئ.

### زه څنګه د خپل ماشوم TLDS ته لاسرسی ولرم؟

ستاسو د ماشوم د ماشومتوب لومړنی خدمت به تاسو ته د انلاین TLDS وسیلي سره یو لینک درکړي. انلاین TLDS د TLDS د بشپړولو لپاره غوره لار ده.

که تاسو انلاین وسیله نشئ کارولی، تاسو کولی شئ د دې پر ځای د کاغذي کاپي غوښتنه وکړئ.

## زه د TLDS کومه برخه ډکه کړم؟

*1 برخه* او *1.1* ستاسو د ماشوم د ماشومتوب د لومړني ښوونکي لخوا ډک شوي دي.

*1.2 برخه* کیدای شي ستاسو د ماشوم د لومړنیو زده کړو د ښوونکي لخوا بشپړ شي که چیري ستاسو ماشوم پرمختیایي ځنډ یا معلولیت ولري. نور مسلکی خلک چې ستاسو د ماشوم سره مرسته کوي کیداي شي په دې برخه کې څه اضافه کړي.

*2 برخه: ماشوم* ستاسو د ماشوم لخوا د یو لوي کس سره چې ښه یې پیژني بشپړ شوی دی. دا کیداي شي تاسي یا د ماشوم د لومړنیو زده کړو ښوونکي وي.

*3 برخه: کورنۍ* ستاسو د ډکولو لپاره دي. ستاسو نظر مهم دی. دا برخه پوښتنې لري چې تاسو سره ستاسو د ماشوم د علاقې وړ او همدارنګه په ښوونځي کې ستاسو د ماشوم لپاره ستاسو فکرونه او هیلو په شریکولو کې مرسته کوي. د دې پوښتنو ځوابونه کولي شي د ښوونکو او د OSHC کارکوونکیو سره مرسته وکړي (که چیري عملي وي) چې ستاسو ماشوم ته ځواب او پوهه ورکړي، چې د دوي د زده کړې او پرمختګ ملاتړ کوي.

## د TLDS د بشپړیدلو وروسته څه پیښیږي؟

د TLDS له بشپړیدلو وروسته، ستاسو د ماشوم د ماشومتوب دورې د لومړنیو زده کړو ښوونکی به تاسو ته یوه بشپړه کاپي درکړي.

ستاسو د ماشومتوب لومړني د لومړنیو زده کړو ښوونکی به ستاسو د ماشوم ښوونځي او OSHC خدمت سره بشپړ شوی TLDS شریک کړي (که چیري د تطبیق وړ وي).

که تاسو ډاډه نه یاست چې ستاسو ماشوم به کوم ښوونځي ته ځي، ستاسو د ماشومتوب لومړنیو زده کړو ښوونکی به تاسو ته د TLDS دویمه کاپي درکړي. کله چې تاسو خپل ماشوم شامل کړئ، کولی شئ دا ښوونځي ته ورکړئ.

که تاسو 3 برخه *بشپړ نکړئ: کورنۍ*، ستاسو د ماشوم د ماشومتوب دورې د لومړنیو زده کړو ښوونکی به بیا هم نورې بشپړې شوې برخې د ښوونځي او د OSHC خدمت سره (که چیري د تطبیق وړ وي) شریکې کړي او تاسو ته به د هغه څخه یوه کاپي درکړي چې شریک شوي دي.

له ښوونځیو څخه څیرني او غبرګون په ګوته کړي دي چې د دې مالوماتو شریکول ښوونځي ته د بریالي لیږد ملاتړ کوي. که تاسو غوره ګڼئ چې TLDS د خپل ماشوم له ښوونځي سره شریک نکړي، مهرباني وکړئ په دې اړه د خپل ماشوم د ماشومتوب دورې د لومړنیو زده کړو له ښوونکي سره خبرې وکړئ.

مناسب او خوندي مالومات د ویکتوریا د تعلیم او پاملرنې مسلکی خلکو سره مرسته کوي تر څو د ماشوم د هوساینې او د خوندیتوب د ډاډمن کولو لپاره اړین پوهه او مالومات ولري.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د-https://www.vic.gov.au/information-sharing-schemes-and-the-maram framework څخه لیدنه وکړئ

## د لا زیاتو مالوماتو لپاره

د لا زیاتو مالوماتو د ترلاسه کولو لپاره دwww.vic.gov.au/transition-school-resources-families  څخه لیدنه وکړئ

دا مالومات د ټولني په یو شمیر ژبو په همدې لینک کې شتون لري: www.vic.gov.au/transition-school-resources-families